د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

# د علمائے کرامو

# درې حقونه

11 سپتمبر، 2025



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

(1): پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: 5 منټه (2): دُعا یادول: 5 منټه

(3): [د خپلو اعمالو] جائزه: 5 منټه، ټول وخت: 15 منټه۔

نن به د زده کولو او ښودلو پهٔ **حلقو** کښې **د علمائے کرامو درې حقونه** پهٔ باره کښې ګڼه ور معلومات درکولے شي او **د بیتُ الخلاء نه د راوتلو نه پس دُعا** به یادولے شي۔ پهٔ اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي۔ اِنْ شَآءَ اللّٰه الْکَرِیم!

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** څوک چې پهٔ ما باندې د جُمعې پهٔ ورځ دُرُودِ پاک لولي، زهٔ به د قیامت پهٔ ورځ د هغهٔ شفاعت کووم۔ [1]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د علمائے کرامو درې حقونه

## آیت مبارک

اللّٰه پاک فرمائیلي دي:

| | |
|---|---|
| قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ؕ (پاره:23، سورۂ الزمر:9) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: تهٔ وفرمایه: آیا د عِلم والا او بے عِلمه برابر دي؟ |

یعني غیر عالِم پهٔ یو حالت کښې هم د عالِمِ دِین مرتبې ته نهٔ رسي۔ [2] ❀ د عالِمِ دِین فضلیت پهٔ عابد باندې داسې دے لکه څنګه چې د څوارلسمې سپوږمۍ پهٔ ټولو ستورو

---

[1] … جمع الجوامع، جلد:7، صفحه:199، حدیث:22352۔

[2] … فیضانِ علم و علما، صفحه:11 بتغیر قلیل۔

باندې دے [(1)] ❁ د قيامت په ورځ به د علمائے دِين د قلمونو سياهي او د شهيدانو وينه تللے کيږي نو سياهي به په وينه باندې غالبه راځي [(2)] ❁ علمائے دِين د انبياؤ وارثان دي [(3)] ❁ د قيامت په ورځ باندې به علمائے دِين شفاعت کوي۔ [(4)]

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

څوک چې زمونږ د علماؤ حق اونه پيژني ، هغه زمونږ نه نۀ دے (يعنې زمونږ په طريقه باندې نۀ دے)۔ [(5)]

## د علمائے کرامو درې حقونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د علمائے کرامو په مونږ باندې ډير حقوق دي، په کومو کښې چې به درې نن مونږه زده کوو۔

**وړومبے حق:** تعظيم او اِحترام کول

**وضاحت:** رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د علماؤ تعظيم کوئ--! ځکه چې علماء د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام وارثان دي، چا چې د علماؤ اِکرام (عزت او احترام) وکړو هغۀ د الله او د هغۀ د رسول اِکرام وکړو۔ [(6)] اعلیٰ حضرت رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: عالِمِ دِين، سُني، د صحيح عقيدې والا چې خلق د حق طرف ته رابلي او د حق خبره کوي د مُحَمَّد رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نائب دے، د هغۀ سپکاوے مَعَاذَ الله! د

---

[1] ...ابنِ ماجه ، باب فضل العلماء والحث على طلب العلم ، صفحه:49، حديث:223۔

[2] ...تاريخ بغداد ، محمد بن حسن ، جلد:2، صفحه:190، حديث:618۔

[3] ...ابنِ ماجه ، باب فضل العلماء والحث على طلب العلم ، صفحه:49، حديث:223۔

[4] ...شعب الايمان ، باب فى طلب العلم ، جلد:2، صفحه:268، حديث:1717، ماخوذاً۔

[5] ...الجامع الصغير ، حديث : 7694۔

[6] ...الجامع الصغير ، حديث:1428۔

مُحَمَّد رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سپکاوے دے او د مُحَمَّد رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ جناب کښې ګستاخي د الله پاک د لعنت او د دردناک عذاب سبب دے۔ (1)

❁ که عالِم ته پۀ دې وجه باندې بد وائي چې هغه عالِم دے، نو بيا خو صريح کافِر دے (چې دا عالِمِ دِين نۀ بلکې عِلمِ دِين بد ګڼي او عِلمِ دِين څۀ شے دے؟ د قرآن او سُنَّت عِلم) ❁ د عالِمِ دِين د عالِمِ دِين پۀ توګه سپکاوے نۀ کوي بلکې د عِلمِ دِين پۀ وجه د هغه تعظيم فرض ګڼي خو د خپلې څۀ دنياوي دښمنۍ پۀ وجه عالِمِ دِين ته کنځلې کوي، د هغۀ سپکاوے کوي نو سخت فاسِق او فاجِر دے ❁ او که بغير د څۀ وجهې د عالِمِ دِين سره بعض لري نو مَرِيۡضُ الۡقَلۡبِ وَخَبِيۡثُ الۡبَاطِن (يعنې د زړۀ مريض او د خبيث باطِن والا) دے۔ بزرګانِ دِين فرمائي: مَنۡ اَبۡغَضَ عَالِمًا مِّنۡ غَيۡرِ سَبَبٍ ظَاهِرٍ خِيۡفَ عَلَيۡهِ الۡكُفۡر يعنې څوک چې بغير د څۀ ظاهري وجهې نه د عالِمِ دِين سره بـعض لري، پۀ هغۀ باندې د کُفر ويره ده۔ (2) ❁ عوام د علمائے دِين نه بد ګمانه کول ډيره سخته ګناه ده۔ (3)

**د علماؤ د تعظيم مثالونه:** ❁ د علمائے کرامو نه مخکښې نۀ تلل ❁ ډير پۀ ادب او احترام سره خبرې کول، د بد تميزۍ نه بچ کيدل ❁ د علمائے کرامو خبره نۀ کټ کول ❁ د مسئلې پۀ پوښتنه کښې د مناسب وخت او د ښو الفاظو خيال ساتل ❁ د هغوئي نصيحتونه قبلول ❁ د هغوئي خِدمت کول ❁ د هغوئي خلاف پۀ زړۀ کښې څۀ خبره نۀ راوستل ❁ د هغوئي د پاره ښۀ الفاظ استعمالول وغيره۔

**دويم حق:** د علمائے کرامو طرف ته رجوع کول

---

[1] … فتاوی رضويه، جلد:23، صفحه:649۔

[2] … فتاوی رضويه، جلد:21، صفحه:129 بتغير قليل۔

[3] … فتاوی امجديه، جلد:4، صفحه:515۔

**وضاحت:** پۀ مونږ باندې لازم دي چې پۀ دِيني مسئلو او معاملو کښې د علمائے کرامو پۀ خدمت کښې حاضرېږو او د هغوئي نه مسئلې زده کوو، اللّٰه پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَسۡـَٔلُوۡۤا اَهۡلَ الذِّكۡرِ اِنۡ كُنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۴۳﴾ (پارہ:14، سورۃالنحل:43) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے خلقو! که تاسو نۀ پوهيږئ نو د عِلم لرونکو نه تپوس وکړئ۔ |

معلومه شوه چې د کومې مسئلې عِلم درسره نۀ وي نو د هغې پۀ باره کښې د علمائے کرامو طرف ته رجوع کول ضروري دي،لهذا که څۀ مسئله راپيښه شي يا څۀ وسوسه پۀ زړۀ کښې راشي نو د سُني صحيح عقيدې والا عالِمِ دِين نه دې د هغې پۀ باره کښې پوښتنه وکړے شي۔

**نوټ:** د خپلو مسئلو د حل کولو د پاره د دار الافتاء اهلسُنَّت سره رابطه وکړئ!

**دريم حق:** د علمائے کرامو تابعداري کول

**وضاحت:** اللّٰه پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَطِيۡعُوا اللّٰهَ وَ اَطِيۡعُوا الرَّسُوۡلَ وَ اُولِى الۡاَمۡرِ مِنۡكُمۡ ۚ (پارہ:5، سورۃالنساء، 59) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ایمان والؤ! د اللّٰه فرمانبرداري وکړئ او د رسول فرمانبرداري وکړئ او د هغوئي څوک چې پۀ تاسو کښې حکومت والا دي۔ |

دلته د **اُولِى الۡاَمۡر** نه مُراد علمائے کرام دي۔ [1] لکه څنګه چې د دواړو جهانو د سردار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اطاعت د اللّٰه پاک اطاعت دے، هم داسې د عالِمِ دِين فرمانبرداري د رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبرداري ده۔ [2]

---

1 … فتاوی رضويه ، جلد:6، صفحه:517۔

2 … نور العرفان ،پاره:5،سورۃِالنساء ،تحت الآيت :59،صفحه:138۔

# دوهرائي

نن مونږه د علمائے کرامو درې حقونه زده کړل، په ذِهن کښې یې کښینوئ: (1): د علمائے کرامو تعظیم او اِحترام کول (2): د هغوئي طرف ته رجوع کول او (3): د هغوئي تابعداري کول۔

## د ښودلو او زده کولو په حلقو کښې یادولو والا دُعا

## د بیتُ الخلاء نه د راوتلو نه پس دُعا

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَذْهَبَ عَنِّی الْاَذٰی وَعَافَانِیْ

ترجمه: د الله پاکه شُکر دے کوم چې زما نه تکلیف لرې کړو او ما ته یې عافیت راعطا کړو۔ [1]

## د اِجتماعي جائزې طریقه (72 نیک اعمال)

### د روزانه 56 نیک اعمال:

(1): آیا ښه ښه نیتونه مو کړي؟ (2): آیا پینځه واړه نـمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آیا د هر نـمونځ نه مخکښې مو د نـمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آیا د شپې مو سُوْرَةُ الْمُلْك لوستلے یا اوریدلے؟ (5): آیا د هر نـمونځ نه پس مو آیة الکرسی، تسبیحِ فاطمه، سُوْرَةُ الْاِخلاص لوستلے؟ (6): آیا د کنزُ الایمان نه مو 3 آیتونه یا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسیر سره لوستلي یا اوریدلي؟ (7): آیا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آیا 313 کرته مو دُرُود شریف لوستلے؟ (9): آیا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟

---

1...مدنی پنج سوره: صفحه: 204۔

(10): آیا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آیا د فضول نظر نه پهٔ بچ کیدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آیا 12 منټه مو د مکتبة المدینه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آیا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آیا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آیا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آیا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آیا پهٔ تاسو او جي وئیلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آیا پهٔ مکتبة المدینه بالغان کښې مو لوستلي، یا مو ښودلي؟ (19): آیا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پهٔ دوو ګینټو کښې کور ته رسیدلي یئ؟ (20) : آیا دوه ګینټې مو پهٔ دیني کارونو باندې لګولي؟ (21): آیا د سحر د نمونځ د پاره مو راپاځول کړي؟ (22): آیا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آیا پهٔ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آیا د جومات درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (25): آیا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آیا د زلفو د پریښودو پهٔ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آیا یو موټے ګیره مو پریښودې؟ (28) : آیا د ګناه کولو پهٔ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آیا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آیا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آیا څهٔ نا څهٔ مو پهٔ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آیا د ماسپښین سنتِ قبلیه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آیا تهجد یا صلوٰةُ اللیل مو ادا کړي؟ (34): آیا د اَوَّابِیْن یا اِشْرَاق او څاښت نمونځ مو کړے؟ (35):آیا د مازدیګر یا د ماسخوتن سُنتِ قبلیه مو ادا کړي؟ (36): آیا پهٔ 12 دیني کارونو کښې مو د یو دیني کار ترغیب ورکړے؟ (37) : آیا د نورو نه غوښتلے شوي څیزونه خو مو اِستعمال کړي نهٔ دي؟ (38): آیا د دروغو، غیبت او چغلی نه مو ځان ساتلے؟ (39): آیا د څهٔ وخت د پاره مو مَدَني چینل کتلے؟ (40): آیا ذاتي دوستي خو مو نهٔ ده کړې؟ (41): آیا پهٔ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آیا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نهٔ دي وئیلي کوم چې زړهٔ نهٔ دي منلي؟ (43): آیا د صفایۍ او سلیقې خیال مو

ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آيا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانونو په حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آيا د څۀ نا څۀ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئيلې؟ (47): آيا چوک درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او مرشد ته مو ايصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو کړې؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آيا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آيا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آيا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او په کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آيا عمامه شريف مو په سر کړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدينه کارکردګي

✿ په ليکلو خبرې کول 12 کرته ✿ په اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ✿ په سترګو کښې د سترګو اچولو بغير خبرې 12 کرته۔

## هفته وار 9 نيک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو څوک اِسلامي خور د کور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا په هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آيا يومِ تعطيل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آيا د مريض يا غم زيلې تپوس يا غم خورې او د چا په وفات کيدو مو تعزيت [لاس نيوه] کړې؟ (62): آيا په هفته کښې مو په يوه ورځ کښې روژه نيولې؟ (63): آيا هفته واره رساله مو لوستلې يا اوريدلې؟ (64): آيا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آيا مخکښې راتلونکې او اوس د نۀ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د ديني ماحول سره تړون پيدا کړو؟